# شتمنی
# SHTAMANI
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د حديث شريف ژباړه**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: که په يوه ټولنې يا قوم کې داسې څوک وي، چې ګناه کوي او په دې ټولنې يا قوم کې داسې څوک هم وي، چې د دې بد عمل د منع کولو قدرت لري او نه يې منع کوي؛ نو الله تعالی دوی ټول تر مرګ مخکې په عذاب اخته کوي. [رواه الترمذي وقال حسن صحيح ترميذي (ص: ٤٠ ج ٢)]

**ترجمه حديث شريف**

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرمايد: اگر در يک گروه يا قوم يک شخص مرتکب گناه می شود و در اين گروه يا قوم شخصی ديگری باشد که قادر بر منع چنين عمل وی باشد و مانع آن نمی شود؛ پس خداوند متعال قبل از مرگ همه آنها به عذاب مبتلا می کند. رواه الترمذي وقال حسن صحيح ترميذي (ص: ٤٠ ج ٢)

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)


پنجشنبه | د شعبان المعظم ٢٦ - ١٤٤٥ال س/ د كب ١٧-١٤٠٢ال ل/ د مارچ ٧-٢٠٢٤ز/دوهم كال / ٩٠ گڼه/ ٤ مخيز




## سر مقاله


### راهبرد برای اقتصاد پایدار در کشور

به منظور تحقق اقتصاد پایدار در یک کشور، راهبرد ها و سیاست های گستردهای لازم است تا کشور ها برای رشد پایدار اقتصادی و توسعه اقتصادی رو به سوی منابع طبیعی، انرژی پایدار، زراعت و فناوری بیاورد. این شامل تمرکز بر افزایش بهره وری منابع، استفاده از انرژی تجدید پذیر، حفاظت از محیط زیست و توسعه فناوری های پایدار می باشد. مبحث دیگر میتواند رشد در ساختار اقتصادی کشور به سمت صنایع کم کربن (کاهش استفاده از انرژی)، کارآفرینی و ایجاد اشتغال پایدار باشد. این امر میتواند شامل ایجاد و توسعه صنایع نوظهور و افزایش نوآوری، پشتیبانی از کارآفرینی و تعامل بین بخش های عمومی و خصوصی برای رشد اقتصادی پایدار باشد. باید خاطر نشان نمود اقتصاد پایدار نباید فقط توجه به جنبههای محیط زیستی داشته باشد، بلکه باید به جوانب اجتماعی و عدالت نیز توجه داشته باشد. این شامل توسعه پایدار، آموزش و بهره وری اجتماعی، کاهش فقر و توزیع عادلانه منافع اقتصادی است. در پهلوی آن اهمیت هماهنگی بین المللی نیز میتواند در اقتصاد پایدار فوق العاده قابل ملاحظه باشد. تبادل دانش، فناوری و منابع، توسعه بازارهای بین المللی برای محصولات پایدار و ایجاد توافقات بین المللی برای حفاظت از محیط زیست و مبارزه با تغییرات اقلیمی بخشی از این راهبرد می باشد. در حالیکه افغانستان را میتوان یکی از کشور های کمتر انکشاف یافته و فقیر پنداشت، نیاز است تا برنامه های انکشافی خویش را با اهداف انکشاف پایدار، دقیق هماهنگ نمود، چون شرایط و الزامات کنونی نیازمند است تا منابع عایداتی کشور بگونه دقیق مطالعه و تحت بررسی قرار گرفته و مشخصاً روی آن سرمایه گذاری صورت گیرد تا به نیازمندی های کشور پاسخگو باشیم. حکومت امارت اسلامی افغانستان با در نظر داشت شرایط و وضعیت کنونی، طی یک روند مشورتی و همه جانبه اهداف انکشاف پایدار را که مناسب شرایط کنونی جامعه اسلامی و افغانی باشد، آغاز نموده تا ثبات اقتصادی پایدار را ایجاد نماید. بناءً امارت اسلامی افغانستان برای ریشه کن ساختن فقر و همچنان به نصف رساندن تعداد مردان، زنان و کودکانی که زیر خط فقر زندگی می کنند، تلاش ورزیده که از عمده ترین موارد بحث محو فقر در صدر پلان حکومت قرار داشته و همچنان ایجاد نظام حفاظتی اجتماعی مطابق اصول و انجام اقدامات اجرایی مناسب جهت تحقق آنها برای همه تضمین برابریِ با حق دسترسی به منابع اقتصادی برای تمام مردم کشور میباشد. در کل میتوان گفت پالیسی اقتصاد ملی افغانستان نتیجۀ عزم امارت اسلامی افغانسان برای رشد و انکشاف پایدار اقتصادی و بارگشت به جایگاه شایستۀ کشور می باشد تا این کشور بتواند از امتیازات سیستم متحول اقتصاد جهانی و اقتصاد پایدار بهره مند گردد. بر همین اساس امارت اسلامی افغانستان برای رشد و پایداری اقتصادی افغانستان همواره تلاش ورزیده است تا پروژه های حیاتی چون کانال قوشتیپه، ترمیم تونل سالنگ و احیا مجدد راهای مواصلاتی و ترانزیتی که بتواند باعث رشد و رونق اقتصادی کشور گردد را آغاز نماید. همچنان امارت اسلامی توانسته است تا روابط حسنه را با کشور ها و سازمانهای خارجی که میتواند در میزان رشد تجارت و اقتصادی کشور نقش موثر خویش را ایفا نماید هماهنگی نماید، تا باشد هماهنگی بین المللی که اهمیت فوق العاده در تبادل دانش، فناوری و منابع، توسعه بازار های بین المللی برای محصولات پایدار و ایجاد توافقات بین المللی برای حفاظت از محیط زیست و مبارزه با تغییرات اقلیمی را در خود دارد را ایجاد نماید.

**با احترام**

**اداره**

## په روان ۱۴۰۲ مالي کال کې هري ولسوالۍ ته پنځه میلیونه افغانۍ ځانګړې پراختیایي بودیجه ورکړل سوې وه



د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د حکم پر بنسټ په (۱۴۰۲) مالي کال کې د ملي بودیجې له پراختیایي برخې څخه بېله، د هیواد هري ولسوالۍ ته (۵) میلیونه افغانۍ بودیجه ځانګړې سوې وه، چې موخه ئې په یادو سیمو کې رغونه او بیا رغونه وه. دغه ځانګړې سوې بودیجه په ولسوالیو کې د ولایتي اداري په همغږۍ په خپلواکه توګه لګول کېده، چې ستره برخه ئې د ولسوالیو رغونه، بیا رغونه، د تأسیساتو ساتنه، څارنه او لومړیتوب لرونکي پروژې وې. دغه ټاکل سوې بودیجه د روان (۱۴۰۲) مالي کال تر پای ته رسېدو مخکې د کورنیو چارو وزارت په همکارۍ په ولسوالیو کې په ذکر سوو اړینو کوچنیو پراختیایي پروژو ولګول سوه. د یادوني وړ ده، چې د دغي بودیجې په واسطه په ولسوالیو کې ځیني پروژې بشپړي سوي او ځیني نوري به د روان مالي کال تر پایه پوري بشپړي سي.

## د عوایدو لوی ریاست رهبرۍ پلاوي د یو لړ مهمو عوایدي او مالیاتي مسائلو په تړاو ناسته وکړه

د ماليې وزارت د عوایدو لوی رئیس الحاج شېر محمد مشفق په مشرۍ او د یاد ریاست د ټولو رئیسانو او آمرینو په ګډون، ددې ریاست د رهبرۍ پلاوي په نهمه ناسته کې د یو لړ مهمو عوایدي او مالیاتي مسائلو په تړاو خبري وسوې. په دغه ناسته کې د (۱۴۰۲هـ.ل) مالي کال لپاره ټاکل سوي عوایدي هدف ته د رسېدو پر څرنګوالي، د زرګرانو د مالیاتو، د ګروي په نوم د سهم کرایې د مالیې له منځه تللو، د صرافانو د مالیاتو د تثبیت پروسې پر څرنګوالي، په سرپل ولایت کې د (RMIS) سیستم له لاري د یوزرونو د وېش او پر یو لړ نورو مهمو موضوعاتو باندي بحث او خبري وسوې. د یادوني وړ ده، چې د عوایدو لوی ریاست د تېرو دوو کلونو په موده کې د هیواد په ټولو مستوفیتونو او اړوندو ادارو کې د پرلپسې روزنیزو پروګرامونو د چمتو کولو، د کارکوونکو د وړتیا لوړولو او کار اهل کار ته د سپارلو په پایله کې، سږکال د ګڼ شمېر مثبتو بدلونونو او لاسته راوړنو شاهد دئ.



## د صنعت د ملاتړ او پراختیا په موخه د ګمرکونو لوی ریاست خبرتیا!


**د ګمرکونو لوی ریاست په وړاندیز، د تعرفې کمېټې د پرېکړې او د ماليې وزارت د رهبرۍ د منظورۍ پر بنسټ په هیواد کې د صنعت د ملاتړ او پراختیا، صنعتکاراتو ته د اسانتیا رامنځته کولو او د ګمرکي پړاوونو د ساده کولو په موخه د حمایوي تعرفې په برخه کې لاندي پرېکړې وسوې:**



۱- پخوا د صنعتي فابریکو د واردوونکو خامو توکو نوعیت ته په کتو د (۱٪) څخه (۲،۵٪) پوري ګمرکي تعرفه اخیستل کېده؛ د نوي پرېکړي له مخې به له دې وروسته د صنعتي فابریکو اړوند ټولو او هر نوعه خامو واردوونکو توکو څخه یوازي (۱٪) ګمرکي تعرفه اخیستل کیږي.


۲- د صنعتي فابریکو د حمایوي تعرفې زماني میعاد، چې پخوا یوه ربع (درې میاشتي) او یا هم دوې ربعي وو یو کال ته زیات سو.

۳- د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو څخه پیل بیا تر اوسه پوري د صنعتي فابریکو د حمایوي تعرفې په برخه کې ټولي پخوانۍ ګمرکي باقیدارۍ معاف سوې.



**د ماليې وزارت د خدماتو ریاست غوره حمایوي او شفاف خدمتونه وړاندي کوي**


م ۲


**په ننګرهار ولایت کې مالیه ورکوونکو ته معلوماتي سیمینار وړاندي سو**


م ۲




**د ننګرهار ګمرک کارکوونکو کیمیاوي چاودېدونکي توکي (امونیم نایټریټ) نیولي دي**


م ۲


**د ابوالنصر فراهي ګمرک کارکوونکو ته د ګمرکي مسائلو په تړاو روزنیز پروګرام پای ته ورسېد**


م ۲




**The impact of marble on industry and international trade:**


م ۳


**افغانستان په چابهار بندر کې د اقتصادي دفتر د پرانیستلو غوښتنه وکړه**


م ٤


## د ماليې وزارت د خدماتو رياست غوره حمايوي او شفاف خدمتونه وړاندي کوي



د خدماتو رياست د ماليې وزارت د مالي او اداري لوی رياست تر چتر لاندي فعاليت کوي. دا رياست د غوره خدمتونو د وړاندي کولو په موخه د تحويل خونو او ټرانسپورټ د خدماتي فعاليتونو کنټرول او بررسي، د جنسي محاسبې د حسابونو د تصفيې مديريت، د ټرانسپورټي وسايطو د رغولو له څرنگوالي کنټرول او د املاکو، اجناسو او کاري توکو د ثبت او راجستر کولو څخه مديريت او کنټرول او له دوی څخه د اغېزمني گټي اخيستني دنده په غاړه لري. همدارنگه دغه رياست په مالي کال کي د ماليې وزارت ټولو ادارو د برېښنا، پستي خدمتونو، د ښار پاکولو پيسو د تصفيې او د وزارت د ودانۍ او موجودو سيستمونو لکه برېښنا، اوبو رسولو، مرکز گرميو او د ترکانۍ له چارو څارنه او ډاډ ترلاسه کوي. د اسلامي امارت له بيا واکمنېدو وروسته د خدماتو رياست په ټول توان سره هڅه کړې، چي خدماتي چاري د غوره خدماتي چارو وړاندي کولو په موخه مديريت کړي او د کارپولينگ مديريت تر نظر لاندي د ټرانسپورټ، نقليه وسايطو په برخه کي شپه او ورځ خدمات وړاندي کوي. سربېره پر دې، دغه رياست د نافذه قوانينو او مقرراتو سره سم تر خپل اثر لاندي معتمدينو سره په شفاف ډول حسابونه تصفيه کړي، چي اوس مهال دغه معتمدين هيڅ باقي داري نه لري. هغه اجناس او توکي، چي شعبو ته توزيع سوي د دې رياست د جنسي محاسبې مديريت سره ثبت او راجستر دي او د سمي او مؤثري کاروني څخه ئې څارنه کېږي.

د يادوني وړ ده، چي د حمايوي خدمتونو د وړاندي کولو او نافذه اصولو او مقرراتو په رڼا کي د خدماتي چارو همغږي کولو په موخه د خدماتي چارو مديريت او څارنه د دغه رياست له اهدافو څخه شمېرل کېږي او په دې برخه کي بريالی هم دئ، چي په اړوندو چارو کي د روڼتيا او پرمختگ لامل هم گرځېدلی دئ.

## په ننگرهار ولايت کي ماليه ورکوونکو ته معلوماتي سيمينار وړاندي سو



د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د حقوقي خدمتونو او عوايدو پاليسۍ رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت له لوري په ننگرهار ولايت کي ماليه ورکوونکو ته د ماليې د ورکړې، ډولونو او گټو په تړاو د عامه پوهاوی سيمينار وړاندي سو. په دغه سيمينار کي د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر سيد احمد هائد، د عامه پوهاوي کارپوه عبادالله درمان او د عوايدو لوی رياست د حقوقي خدمتونو او عوايدو پاليسۍ رياست د قانون لارښووني کارپوه ذبيح الله زاهد او د ياد ولايت د مستوفيت کارکوونکو گډون کړی وو. په دې سيمينار کي د دغه ولايت د اصنافو، هوټلونو، رهنمايي معاملاتو او بېلابېلو اتحاديو مسؤولينو ته د مالياتو په ډولونو او سنجونه، د مالياتو د ورکړې په ارزښت، مالياتي طرزالعملونو او د عوايدو لوی رياست د لاسته راوړنو په اړه معلومات وړاندي سول. د دغه سيمينار په پای کي د ننگرهار ولايت د اصنافو ستونزي هم واورېدل سوې، چي د عوايدو لوی رياست له رهبرۍ سره به د حل په موخه شريکي سي.

## د ابوالنصر فراهي گمرک کارکوونکو ته د گمرکي مسائلو په تړاو روزنيز پروگرام پای ته ورسېد




د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له لوري د گمرکونو لوی رياست په غوښتنه د شيخ ابو النصر فراهي گمرک (۳۹) تنو کارکوونکو ته د گمرکي او نورو اړوندو مسائلو په تړاو (۱۸) ورځنی روزنيز پروگرام پای ته ورسېد. په دغه روزنيز پروگرام کي کارکوونکو ته د گمرکي بيې ټاکني (قيمت گذاري)، د گمرک ارضيه کرنلاري، گمرکي تعرفې، د سوداگرۍ نړيوالو اصطلاحاتو، گمرکي رويو، گمرکي عوارضو او نورو اړوندو مسائلو او موضوعاتو په تړاو نظري او عملي روزنه ورکړل سوه بايد ووايو، چي د گمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ له لوري د بلخ او هرات ولايتونو په گمرکي ادارو کي هم کارکوونکو ته ورته روزنيز پروگرام جريان لري.

## د ساتني او ځانگړو عملياتو تنفيذي قطعې مرستيال د ولايتي مفرزو له امنيتي مسؤلينو سره انلاين خبري وکړې




د ماليې وزارت اړوند د ساتني او ځانگړو عملياتو تنفيذي قطعې اداري او مسلکي مرستيال مولوي نعيم الله مصباح د ولايتي مستوفيتونو او گمرکونو له قوماندانانو سره انلاين اصلاحي او مشورتي خبري وکړې. ښاغلي مصباح دوی ته وويل، چي په خپل منځ او له ملکي او نورو نظامي ادارو له مسؤلينو سره همغږي لا پياوړې او ټينگه کړئ، خپلو ما تحت ملگرو او مسؤلينو سره همېشه مشورې کوئ، وروسته له مشورو توکل په الله ﷻ کوئ، له نرم تعامل او ښه چلند څخه کار واخلئ، پر تاسو باندي اعتماد ثابت دئ، چي مسؤليت در سپارل سوی دئ. ده وويل، چي هر هغه غيرقانوني يا قاچاقي توکي، چي ترلاسه کوئ او اړوندو ادارو ته ئې سپارئ د سپارلو او ثبتولو فورمونه ورڅخه اخلئ؛ ترڅو ئې د تسليمی پړاو قانوني سي او همداشان مو له مرکز سره خپل راپورونه پر وخت شريکوئ، چي موږ وکولای سو هم مهاله خبر او د ستونزو حلولو ته رسېدنه وکړای سو.

## د هرات گمرک کارکوونکو ته د پوهاوي کچي د لوړولو سيمينار پيل سو



د ماليې وزارت په اړوندو ادارو کي د چارو د ښه پرمختگ، د کارکوونکو د ظرفيت لوړوني، د لا روڼتيا رامنځته کولو او د گمرکي چارو د لا ښه والي په موخه، د هرات محصولي گمرک، اسلام کلا او تورغونډۍ سرحدي گمرکونو د مختلفو مدريتونو د کارکوونکو لپاره د پوهاوي کچي د لوړولو په موخه (۳۰) ورځنی روزنيز سيمينار د دې گمرک رياست د عملياتي آمريت له لوري پيل سو. په دغه روزنيز سيمينار کي، چي (۳۰) تنو کارکوونکو برخه اخيستې وه د گمرکي چارو او فعاليتونو په بېلابېلو برخو کي ټول اړين مسايل د يوې مياشتي په موده کي تدريسېږي. دا سيمينار د گمرک د ورځنيو فعاليتونو د روڼتيا او چټکتيا، د مراجعينو په چارو کي د اسانتيا او د غوره خدمتونو وړاندي کولو په برخه کي خورا ارزښتناک رول لري.

## د ننگرهار گمرک کارکوونکو کيمياوي چاودېدونکي توکي (امونيم نايټريټ) نيولي دي



د ننگرهار گمرک د تشريح مديريت زړورو کارکوونکو د اکرام شفيق شرکت اړوند په دريو سوداگريزو محمولو کي (۲۱۲) بستې کيمياوي چاودېدونکي توکي (امونيم نايټريټ) چي مجموعي وزن ئې (۵۰۸۸) کيلو گرامه کېږي، کشف او ونيول، دغه توکي په خورا مهارت سره په پرچون توکو (بلټي) کي ځای پر ځای سوي ول. ياد چاودېدونکي توکي، چي له گاونډي هېواد څخه افغانستان ته په پټه راوړل کېدل په تور ئې يو تن نيول سوی او د نورو څېړنو لپاره امنيتي ارگانونو ته ور پېژندل سوی دئ.

## د نيمروز او تورخم په گمرکونو کي د قاچاقي توکو د را لېږد مخه نيول سوې




د نيمروز گمرک د گرځنده څارني او د تورخم گمرک د دروازو لوی مديريت کارکوونکو په تېرو دريو ورځو کي د يوه اندازه بېلابېلو توکو د قاچاق مخه نيولې. په نيول سوو توکو کي (۳۱۳۶) کيلو گرامه زراعتي درمل، (۱۴۰۰) کيلو گرامه انساني طبي درمل او (۶۰۰۰) کيلو گرامه شيريني باب شامل دي، چي په پټه هېواد ته راوړل کېدل. همداشان د تورخم په گمرک کي (۲۴) کيلو گرامه قيمتي او نيمه قيمتي ډبري هم نيول سوي، چي قاچاق کوونکو غوښتل گاونډي هېواد ته ئې وليږدوي. نيول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره د نيمروز او ننگرهار گمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د عوايدو لوی رياست اړوند د کوچنيو ماليه ورکوونکو رياست جوړه سوې کمېټه پر خپلو چارو برلاسې ده

څه باندي دوه کاله وړاندي د کوچنيو ماليه ورکوونکو له لوري، ماليه ورکوونکو ته د عامه پوهاوي، د کارکوونکو ظرفيت لوړوني او د دوی د کارونو د څارني په موخه پنځه کسيزه کمېټه رامنځته سوه. په دغي جوړې سوې پنځه کسيزه کمېټه کي د عوايدو لوی رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت کارکوونکي، د کورنۍ پلټني رياست استازي او د کوچنيو ماليه ورکوونکو رياست د دريو زونونو آمرين گډون لري، چي د اړتيا په صورت کي پورته ذکر سوو مسائلو ته رسېدنه کوي او د ماليه ورکوونکو ستونزي حلوي. د يادوني وړ ده، چي تر دې مهاله يادي کمېټې په ساحه کي په مستقيمه توگه د لس گونو ماليه ورکوونکو ستونزو ته رسېدنه کړې ده.



شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# The Impact of Marble on Industry and International Trade

Dr. Mohammad Akbar Nadeer Poor
Head of Strategic Communications with Donors
Ministry of Finance

The marble industry worldwide has been growing strongly since the 1990s, and at roughly 8.7% per year since 1999. The industry is expected to continue to grow over eight per cent per year up to 2025. Currently, 55% of the marble quarried is destined for exports. Estimates are that by 2025, 60% of all quarried marble will be exported. Production and exports are dominated by five countries: Italy, Turkey, Spain, India and China. These countries control over half of the market. Recent market trends indicate a shift from exports of blocks to more value added products such as slabs and finished goods (tiles, cladding, etc.). The largest share of value is found in quarrying blocks and in cutting slabs, the most difficult and capital intensive links in the value chain. However, countries with the ability to manufacture cheap (especially China) are started to enter the finished goods market, and rich economies are increasingly importing finished goods. Currently, the largest importers of slabs and finished goods are the US, and



the Middle East (UAE and Saudi Arabia). Marble market of Afghanistan has been hindered due to lack of investment. Quarrying operations are conducted by blasting with dynamite, a process that yields irregularly shaped pieces of stone, which are difficult to process and much of which are wasted. Furthermore, blasting causes micro-fractures throughout the stone, resulting in a lot of breakage during cutting and polishing. Blasting not only creates these micro-fractures in the quarried stone, but can also do so in the entire quarry, destroying a great deal of the value of the stone. About 80% of the stone quarried in this manner is shipped out of the country – much of it illegally – at a fraction of the potential value if properly quarried and processed. For example, marble that is exported to Peshawar at just under $40/ton, when cut into blocks, could earn over $140/ton and as well as $300/ton when cut into slabs. The 20% of marble that is not exported is processed in Afghanistan for the local construction markets. The poor quality of the stone leads to a great deal of wastage and inefficiency during processing, further exacerbated by the poor quality of the cutting and polishing equipment in the plants. For comparison, productions cost in Herat are $12-13 per m2 (in Jalalabad they are $14-15 because of the lack of power) under similar conditions in Rajasthan, India, cost are $3.5-4.5 per m2. The price difference is mainly due to the high level of wastage at the processing plant, but a lack of reliable raw material supplies also force frequent plant closures and hurt profitability. Under such conditions, the marble industry cannot compete globally and is threatened by imports from Pakistan and Iran. Imports of marble are either in the form of slabs, which are then cut into tiles and polished in small factories in Afghanistan (the least valuable part of the value chain) or tiles ready for sale. With its large deposits, Afghanistan is poised to make an entry into the world market. This investment would be one of the first in Afghanistan, and will not only be profitable, it will also serve as an example that can jump-start the industry and begin to build its competitiveness.




# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی موازی (۳۳۴۸) متر مربع زمین واقع ولسوالی میر بچه کوت ولایت کابل!

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه موازی (۳۳۴۸ ) مترمربع زمین واقع ولسوالی میر بچه کوت ولایت کابل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد. اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق را داشته باشند می توانند در خواست های شان را بعد از تاریخ (۱۶/۱۲/۱۴۰۲ الی ۰۷/۰۱/۱۴۰۳) به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.
تاریخ آفرگشایی: (۸ حمل ۱۴۰۳) ساعت ۹:۳۰ صبح.
آدرس: تعمیر (۱۴) منزله، سینما پامیر، ریاست عمومي املاك دولتي، ریاست املاك ولایتی.

### اطلاعیه لیلام (۳۳۸) قلم اجناس!

وزارت مالیه امارت اسلامي افغانستان به تاریخ (۷ حمل ۱۴۰۳) به تعداد (۳۳۸) قلم اجناس داغمه (موتر سایکل، میز وچوکی، تخته وسایل تکنالوژی، کمپیوتر، پرنتر، پرزه موتر، ماشین موتر، بطری موتر، تایر موتر و سایر اجناس) را میخواهد به بلند ترین قیمت به نفع دولت لیلام نماید، داوطلبان می توانند به تاریخ متذکره به مرکز قعطه محافظت گمرکات (پلچرخی) حاضر شوند و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸) به تماس شوند، پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

### د ننګرهار ولایت (۲) مي ناحیې اړوند د زاړه ګمرک (۷۰۹۴،۱٦) متره مربع دولتي ځمکي د پانګوني لپاره د داوطلبۍ خبرتیا!

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي، چې د ننګرهار ولایت د جلال آباد ښار په (۲) ناحیه زوړ ګمرک سیمه کې د تلاشي ځلور لاري سره نږدې (۷۰۹۴,۱٦) متره مربع ځمکه، چې د جي، پي، ایس کوردینات نمبر ئې د طول البلد په اعتبار(۷۰,۴۵۷۲۸۰) او د عرض البلد په اعتبار (۳۵,۴۲۸۱۸۷) دئ، د عامه او خصوصي مشارکت له لاري د پانګوني لپاره ورکړي. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص، چې غواړي یاد ملیکت د پانګوني لپاره ترلاسه کړي، کولای سي چې خپل غوښتلیکونه د (۱۶/۱۲/۱۴۰۲تر۱۴۰۳ /۰۱/۰۲) نېټې پوري د دولتي املاکو لوی ریاست ته و سپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپانه دي د (۳۰۰۰) افغانیو په بدل کي تر لاسه کړي. داوطلبان دي د داوطلبي اسناد له شرطپاڼي سره سم د داوطلبۍ په ورځ د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوي ریاست سینما پامیر څوارلس پوړیزي ودانۍ (۱۱) پوړ د داوطلبي هال ته له ځان سره راوړي.
یادونه: له ټاکلي نېټې څخه وروسته غوښتنلیکونه د قبول وړ نه دي.
د پروژې نوم: صلاح الدین ایوبي سوداګریز او هستوګنیز مارکیټ.
ځای: سینما پامیر، ۱۴ پوړیزه ودانۍ، ۱۱ پوړ، د دولتي املاکو لوی ریاست.
د آفرګشایي ټاکلي نېټه: د (۱۴۰۳/۰۲/۰۱) د سهار ۱۰:۰۰ بجې

### اعلان داوطلبی موازی (۱۹٦.۵) متر مربع زمین دولتی

ریاست عمومی املاك دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد.
۱ - موازی (۱۹٦,۵) مترمربع زمین واقع بندگزک فابریکه ماهیپر ولسوالی سروبی ولایت کابل.
در صورتیکه اشخاص حکمی و حقیقی واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند در خواستی های خویش را به ریاست عمومی املاك دولتی واقع تعمیر ١٤ منزله سینما پامیر سپرده و بعد از نشر اعلان الی (۲۱) یوم مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول بدون بازگشت حق الاشتراك را پراداخت نمایند.

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء) تدارك پرزه جات ضرورت وسایط وزارت ( دارای نمبر تشخیصیه NCB/G/١٤٠٢/MOF-١١٠ که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ٢٤/ حوت/١٤٠٢ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ٠٤/ حمل /١٤٠٣ ساعت ١٠:٠٠ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ٥٠,٠٠٠٢ (دو صدو پنجاه هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ٠٢٠٢٩٢٤١٥٦

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، داوطلبی مجدد پروژه تدارك (۴۰) عراده موترسایکل برای حوزه های مالیاتی دارای نمبر قرارداد(Rebid-٠٨٢-NCB/G/١٤٠٢/MOF) را با شرکت دولتی مختلط افتنتو لمیتد به قیمت مجموعی مبلغ ٣,٤٨٠,٠٠٠ (سه ملیون و چهار صد و هشتاد هزار افغانی) عقد قرارداد نماید.
اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتوانند اعتراض خویش را از تاریخ ( ۱۴۰۲/۱۲/۱۵ الی تاریخ ۱۴۰۲/۱۲/۲۱) طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات - کابل ارائه نماید.
این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان–ریاست تدارکات، دفتر اعضای مسلکی تدارکات منزل دوم

شتمنى SHTAMANI اوونيزه

د امتياز څښتن: د ماليې وزارت
مسؤل مدير: احمد ولي حقمل
مرستيال: شمس الدين عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ويبسايټ: mof.gov.af
ايکس پاڼه: Afghanistan mof
يوټيوب: afghanistan mof
شمېره : ٠٢٠٢٩٢٤٤٤٠(+)




# Every PD Given Special Development Budget of 5M Afs in Current FY1402



Based on the order of H. H. Amirul Momineen (may Allah protect him) in the fiscal year 1402, apart from the development part of the national budget, a budget of five million Afs was allocated to each provincial district (PD) of the country. The aim of allocation was building and rehabilitation of the said areas.

The 'allocated budget' that was spent independently in the districts with the coordination of the provincial administration as the major part of which was the construction, rehabilitation, maintenance of facilities, supervision and primary development projects of the districts. Before the end of current FY1402, the allocated budget was spent on necessary and crucial small development projects in the districts with cooperation of the Ministry of Interior. Notably, some of the projects in the provincial districts have been completed with this budget and some others will have been completed by the end of current FY1402.

# Nangarhar Customs Staff Seizes Chemical Explosives




The brave staff of CIDs (Commercial Item Descriptions) of Nangarhar Customs has detected and seized 212 packages of chemical explosives (ammonium nitrate - NH4NO3) with a total weight of 5,088kg in three commercial shipments belonging to Ikram Shafiq Firm.

"Explosives of ammonium nitrate were placed very skillfully in retail goods' packages", said CIDs staff. According to Nangarhar Customs, a person has been arrested on the charge of importing the said amount of explosives secretly from the neighboring country to Afghanistan and he has been handed over to the security bodies for further investigations.




# افغانستان په چابهار بندر کې د اقتصادي دفتر د پرانيستلو غوښتنه وکړه




د تهران ټايمز ـ TEHRAN TIMES په نوم يوې ايرانۍ رسنۍ راپور خپور کړی دئ، چې وايي د افغانستان واکمن حکومت د ايران په سويل ختيځ چابهار بندر کې د اقتصادي نمايندګۍ د دفتر پرانيستلو غوښتنه کړې ده. افغان پلاوي چابهار ته په خپل سفر کې له ايراني لوري سره د ټرانسپورټي لړۍ د فعالولو او د افغان سوداګرو د فعاليتونو د اسانتياوو په اړه خبري وکړې. د وزارت په چارواکي د نړيوال ټرانزيټ مسؤل محمدالله بختيار په مشرۍ يو افغان پلاوی په دې وروستيو کې چابهار ته تللی او هلته ئې د ايران د ازادو حوزو د عالي شورا له منشي حجت الله عبدالملکي سره وکتل. يادي ايرانۍ رسنۍ د افغان سوداګرو له پاره د اسانتياوو په تړاو هم يو څو ټکي ليکلي دي، چې وايي افغان پلاوي چابهار ته په خپل سفر کې له ايراني لوري سره د ټرانسپورټي لړۍ د فعالولو او د افغان سوداګرو د فعاليتونو د اسانتياوو په اړه خبري وکړې.

راپور د اسلامي امارت له خوا د خبرپاڼي له مخې ليکي، چې: «د طالبانو له لوري په خپره سوې خبرپاڼه کې راغلي دي، چې دواړو خواوو د سوداګرۍ، ټرانسپورټ او ټرانزيټ په برخو کې د اړيکو پر پراختيا ټينګار کړی دئ.» راپور وايي، چې دوی د چابهار د پراختيايي پروژې په اړه د دواړو هيوادونو چارواکو پر بشپړ ملاتړ ټينګار وکړ. د تخنيکي پلاوي په اړه وايي: د طالبانو د سوداګرۍ وزارت تر دې مخکې ايران ته د تخنيکي پلاوي سفر د ټرانزيټي همکاريو د پراختيا او د اقتصادي اړيکو د پراختيا په موخه واضح کړی وو. راپور په وروستۍ برخه کې د پاکستاني بندرونو خوا ته په اشارې سره داسي کاږي: «د افغانستان له پاره د ايران چابهار بندر کولای سي د پاکستان هغه بندرونه بدل يا تعويض کړي، چې اوسمهال د وارداتو او صادراتو په نيت ورڅخه ګټه اخيستل کيږي.»

# Leadership Committee of General Directorate of Revenues Holds Meeting for Crucial 'Revenues, Tax Issues'

Under the leadership of Alhaj Sher Muhammad Mushfiq, General Director of Revenues of MoF and with the participation of all the Directors and Heads of the said Directorate, a series of important issues of revenues and tax have been discussed in the ninth session of the leadership delegation of this Directorate.

In this meeting, they were gathered with the aim of how to achieve the revenue target set for the FY1402, the tax on goldsmiths, the elimination of the tax on rent sharing under the title of mortgage, the process of fixing the money-changers' taxes, the distribution of users of RMIS system in Saripul province and a series of some other significant topics have been discussed. It is worth noting, the General Directorate of Revenues has witnessed many positive changes and achievements in the past two years for providing continuous training programs in all the provinces and related bodies of the country, improving and enhancing the skills of the employees, and assigning qualified workers.

